# زما ټول امتيان به جنت ته داخليږي مګر هغه څوک چې انکار وکړي

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: "زما ټول امتيان به جنت ته داخليږي مګر هغه څوک چې انکار وکړي " هغوی وويل: اې د الله رسوله! هغه څوک دی چې انکار به کوي؟ ويې فرماييل: چا چې زما اطاعت وکړ هغه به جنت ته داخل شي او چا چې زما نافرماني وکړه نو بېشکه چې هغه انکار کړی دی».

[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې ټول امت به يې جنت ته ننوځي پرته له هغه چا چې ډډه (تري) وکړي! نو صحابه و - رضي الله عنهم - وفرمايل: او څوک دی چې ( جنت ته له ننوتلو څخه به ) ډډه کوي اې د الله رسوله؟! نو هغه صلى الله عليه وسلم ځواب ورکړ چې: چا چې غاړه کښوده، پيروي يې وکړه او د رسول الله صلى الله عليه وسلم اطاعت يې وکړ جنت ته به داخل شي، او هغه چا چې سرغړونه وکړه او شريعت ته يې غاړه کې نښوده، نو هغه په خپلو بدو کړنو سره جنت ته له ننوتلو څخه ډډه کړې ده.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4947